# اې خلکو، يقينا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهليت غرور او په پلرونو وياړ لرې کړی دی

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ، فَقَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَتَعَاظُمَهَا بِآبَائِهَا، فَالنَّاسُ رَجُلَانِ: بَرٌّ تَقِيٌّ كَرِيمٌ عَلَى اللهِ، وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ هَيِّنٌ عَلَى اللهِ، وَالنَّاسُ بَنُو آدَمَ، وَخَلَقَ اللهُ آدَمَ مِنْ تُرَابٍ، قَالَ اللهُ: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13]».رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته خطبه وکړه نو ويې وييل: « اې خلکو، يقينا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهليت غرور او په پلرونو وياړ لرې کړی دی ، خلک دوه ډوله دي، نيک، پرهيزګاه او د الله تعالی په وړاندې عزتمن، او بې لارې بدبخته، او د خلکو په وړاندې سپک، او خلک د آدم اولاده دي، او الله تعالی آدم له خاورې پيدا کړی دی، الله تعالی فرمايلي: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13] .اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی».

[صحيح]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته په خطاب کې وفرمايل: اې خلکو، الله تعالی ستاسو څخه د جاهليت کبر، وياړ، ننګ او په پلرونو وياړ پورته او لرې کړ او يقينا چې خلک دوه ډوله دي: يا خو مؤمن، صالح، پرهېزګار، فرمانبردار او د الله سبحانه وتعالی عبادت کوونکی وي، نو دا سړی د الله تعالی په وړاندې عزتمن دی، که څه هم د خلکو په اند د اصل او نسب خاوند څخه وي. او يا کافر، بی لارې او بدبخته چې دا د الله تعالی په وړاندې سپک دی، او هېڅ ارزښت نه لري، که څه هم د اصل له اړخه د غوره مرتبې، وقار او واک خاوند وي. او خلک ټول د آدم اولادونه دي، او الله تعالی آدم له خاورې څخه پيدا کړی دی، نو هغه ځوک چې اصل يې له خاورې څخه وي ورته نه ښايي چې کبر وکړي او ځانته مغروره شي، د الله تعالی دا وينا د دې خبرې تصديق کوي چې فرمايي: {يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن أكرمكم عند الله أتقاكم إن الله عليم خبير} [الحجرات: 13].اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee